# هغه خوینديٍ چې د موبایل څخه ګټه اخلي.....خو
# ۸ اسلامي او نظریوي قوانین



ليکوال: احمدضيا / هادي؟

**Download from:aghalibrary**

# هغه خويندې چې د موبايل او انټرنېټ څخه ګټه اخلي....خو!

## فهرست


۱: د کورنۍ اجازه

۲: د کوژدن ( نامزد) سره په موبايل کې د خبرو کولو حکم!!!!!!

۳: د مجازي نړۍ اغېزه او د هغې څخه نه اغېزمن کېدل

۴: د مستعارې ايډۍ جوړول او قوانين يې!!!

۵: د نامشروع سايټو ليدل.

۶: د مسنجر څخه ګټه اخيستل.

۷: د انټرنېټ څخه په ښه لاره کې ګټه واخلی.

۸: خپل وخت مو په انټرنېټ او مجازي نړۍ مه ضايع کوی.






Download from:aghalibrary

## ۱: د کورنۍ اجازه


په اسلامي نړۍ او هیوادونو کې په ۲۱ پیړۍ کې د زیاد فساد او نامشروع اړیکو خپریدل ډیر د انټرنټ او د مجازي نړۍ په واسطه شوي چې ډیر ځوانان او پیغلې یې بې لارې کړي دي.

نو که غواړو چې دا فساد او فسق نور زمونږ په ټولنه او اسلامي نړۍ کې خپور نشي، نو لومړۍ یې باید د خپل د ځان څخه شروع کړو او بیا یې په کورنۍ او ټولنه باندې عملي کړو.

ګرانو خویندو کله چې تاسې له موبایل،کمپیوټر او کومې بلې الکترونیکي وسیلې څخه ګټه اخلۍ چې انټرنټ په کې استعمال کوی نو لومړی د کورنۍ اجازه ډیره اړینه او مهمه ده، او که تاسو واده کړی نو د خاوند اجازه ډیره اړینه او مهمه ده چې اسلام په دې خبره باندې ډیر تاکید کړی.

نو ګرانو خویند د انټرنټ څخه د ګټې اخیستنې په مهال د کورنۍ او خاوند اجازه ډیره اړینه ده او الله (ج) په هر ځای کې حاضر وګڼۍ.

او دنیا او آخرت مو مه برباد کوۍ!!





Download from:aghalibrary

## ۲: د کوژدن سره په موبایل کې خبرې کول!

ګرانو خوېندو که تاسې کوژده کړې ده او د خپل کوژدن سره په موبایل کې خبرې کوې نو لاندې ټکي حتمآ مراعات کړئ:

۱: د ماشومانو په مخکې کې د خپل کوژدن سره په موبایل کې خبرې مه کوئ، ځکه د کورنۍ تر ټولو اغیزمن غړي او زر زده کونکي ماشومان دي نو هیله ده چې د ماشومانو اسلامي تربیه ته پاملرنه وکړئ.

۲: په ګوښې ځای کې د خپل کوژدن سره په موبایل کې خبرې وکړئ.

۳: د شهواني او نامشروع خبرو له کولو څخه د امکان تر حده ډډه وکړئ.

۴: د خپل کوژدن سره په غیبت کولو مه بوخت کیږئ.

۵: د خبرو کولو لپاره معلوم او محدود وخت وټاکئ.

۶: خپلې خبرې د کورنۍ نورو غړو سره مه شریکوئ.

۷: د بالغو او ستر عمر لرونکو ( هلکانو او انجونو) په مخکې د خپل کوژدن سره د هر رقم خبرو کولو به موبایل او انټرنټ کې ډډه وکړئ.






Download from:aghalibrary

## ۳: د مجازي نړۍ اغیزه/ او نه اغیزمن کیدل؛

په کومه پیړۍ او زمانه کې چې مونږ ژوند کوو له پخوا څخه تر اوسه بشر ډیرې آسانتیاوې اختراع ، جوړې او یا کشف کړي دي او خو لکه څرنګه چې مونږ پوهیږو هر څه یو قانون او حد لري همدارنګه اسلامي نړۍ هم مونږ مسلمانانو ته د حکمت څخه ډک قوانین وضع کړي دي، چې په دې یو د /نامحرومو سره د نه خبرو کولو حکم دی/ نو ګرانو خویندو کله چې تاسې له مجازي نړي [ فیسبوک، واتساپ، ټلګرام او داسې نور] سره وصل کیږۍ نو په اول کې تاسو باید خپله حیا او تقوا دوه چنده کړۍ او په قوي او اسلامي ارادې سره مجازي نړۍ ته دننه شۍ نو ګرانو خویندو تاسې که فیسبوک او یا کوم بل اجتماعی آپلیکشن کاروۍ نو هیله ده چې په ښه او نیکې موخې سره یې استعمال کړۍ نه دا چې د فحشا او فساد لمن اوږده شي، نو ګرانو خویندو لاندې قوانین حتمآ مراعات کړۍ:

۱: د نامشروع ویډیوګانو له کتلو څخه په کلکه باندې ډډه وکړۍ.

۲: د نامحرومو سره د چټ کولو نه ځان وساتۍ.

۳: د مجازي نړۍ د درواغو څخه ځان وساتۍ.

۴: د چا د بدنامۍ لپاره د هغه عکس او یا کمنټ باندې له بدو خبرو کولو څخه ځان بچ کړۍ.

۵: د شهواني نړۍ څخه د مجازي نړۍ ستا او د موبایل د سکرین ترمنځ د یو کلک واټن دی نو هیله ده چې خپل فکراو هوش سمبال او قوي اراده ولرۍ.

۶: د هر نامحرم زنګ ته ځواب مه ورکوۍ.

۷: په هر رقم ګروپ کې مه یوځای کیږۍ.



Download from:aghalibrary

**٨: کله چې د فيسبوک او يا کوم بل شي آيډي جوړوئ نو خپله شميره پټه کړئ.**

**هيله ده چې دا قوانين رعايت کړئ دا زما خپل شخصي او د ځينو مشهورو استادانو او عالمانو نظريات وو چې تاسو سره مو شريک کړل**

**که کومه خطا او غلطي په کې وينئ نو سمدلاسه يې زمونږ سره شريک کړئ مننه.**







Download from:aghalibrary

## ۴: د مستعارې آيډۍ جوړول او قوانين يې

**مستعاره آيډي هغې آيډۍ ته وايې چې ټول معلومات يې جعلي وي لکه: نوم، تخلص، د پروفايل عکس او داسې نور...**

**درنو خوېندو کله چې تاسې غواړۍ د هر مشروع مقصد لپاره لکه: د کتابونو ډانلوډ، د معلوماتو ترلاسه کول، د مطالعې پراخ کول او داسې نورو موخو لپاره چې غواړۍ مستعاره آيډي جوړه کړۍ نو دغې آيډۍ څخه بيا کوم بل غلط کار مه ترسره کوۍ چې د اسلام خلاف وي او ستاسو فطرت او فکر ته زيان ورسوي لکه: د هر چا سره چټ کول،د چا په عکسونو باندې غلط کمنټ کول، د چا بدنامه کول او داسې نور فسادي کارونه چې هم مو خپل آخرت،عزت،حيا،فکر،کورنۍ او هم مو بل چاته زيان رسولی وي نو په دې لاره کې هر پل او قدم په احتياط سره پورته کوۍ.**




**د نن زمانې د ډيرو ځوانانو حال؛**

ليکوال: احمدضياء / هادي/



Download from:aghalibrary

## ۵: د نامشروع ( غیر اخلاقي) سایټو کتل!!

**د شهوت اور د انسان په وجود کې د ځنګله د اور په شان بلیږي او تر هغې پورې چې انسان خپل شهوت پوره کړي ( مقصد مې یوازې انجونې نه دي بلکه ځوانانو ته هم اشاره کوم) نو ځوانان او انجونې د بیلا بیلو او غیر شرعی او حرامو لارو څخه خپل شهوت پوره کوي، هیله لرم په مقصد باندې مې پوهیدلي یاستئ.**

**نو د حرامو او غیر اسلامي لارو څخه یوه د غیر اخلاقي( سکسي) سایټنو کتل دي چې دا نه یوازې ستا بدن او دماغو ته ضرر رسوي بلکه دا ګناه دې په عملنامه کې هم لیکل کیږي او آخروي سزا ځان ته ډیره کوې نو درنو او حیاناکو خویندو د نامشروع سایټنو له لیدو څخه په کلکه ډډه وکړئ او خپل راتلونکي ژوند ته خطر مه پیښنوئ.**



د انټرنټ څخه د مطالعي او نورو غوره کارونو لپاره ګټه واخلئ.


لیکوال: احمدضیا / هادي/

## ۶: د مسنجر څخه ګټه اخيستل

لکه څرنګه چې مونږ او تاسو پوهيږو مسنجر هم د مجازي نړۍ يو وسيله ده چې د خبرو کولو او مسج کولو لپاره استعماليږي خو استعمال يې د يو انسان په فکر،روحيه،حيا،اخلاق او سالمه تربيې پورې اړه لري.

درنو مسلمانو خويندو! فکر مو وي چې کله تاسې مسنجر جوړ کړ نو تاسې ته مختلف خلک مسجونه،وايس چټونه او داسې نور موارد پريږدي خو پام مو وي چې دوکه نه شئ او خپل ځان ته خطر جوړ نکړئ.

نو د هر نامحرم سره په مسنجر کې د مسج کولو څخه په کلکه او قوي اراده باندې ډډه وکړئ او که سوک تاسو ته ويډيو،عکس،وايس،مسج او داسې نور شيان راليږي چې تاسو يې هيڅ نه پيژنئ او نامحرم دی نو هيڅ ځواب مه ورکوئ.



## ۷: د انټرنټ څخه په ښه لاره کې ګټه واخلئ!!!

**محترمو خویندو لکه څرنګه چې پوهیږئ انټرنټ هم په پیسو دی او پیسې باید په غلطه لار کې اسراف نکړئ نو د انټرنټ څخه هم د ګټورو شیانو په زده کړه کې ګټه واخلئ.**

**لکه:**

**۱: آشپزي**

**۲: مطالعه**

**۳: نوي معلومات**

**۴: د کتابونو ډانلوډ**

**او داسې نور او خپل انټرنټ په غلطو او بې ځایه شیانو باندې مه مصرف کوئ چې هم د پیسو اسراف دی او هم دې وخت ضایع ده.**



## ۸: خپل وخت مو په انټرنېټ او مجازي نړۍ مه ضایع کوئ!

**هر کامیابه انسان یو منظم تقسیم اوقات لري او همدارنګه د وخت د ضایع کیدو څخه مخه نیسي.**

**نو ګرانو خویندو خپل ارزښتناک وخت مو ډیر په مجازي نړۍ کې مه تیروئ چې : لمونځ مو قضا شي، مطالعه درنه پاتې شي، د کور کارونه در نه پاتې وي، د ماشومانو تربیه مو خرابه شي او داسې نور موارد.**

**نو درنو خویندو د انټرنېټ څخه د استفادې لپاره منظم وخت او یو حد وټاکئ ، چې سبا بیا ستاسو کورنۍ،ماشومانو او کور ته مو ضرر ورسوي.**

**د انټرنېټ څخه چې کوم مواد ډانلوډ کوئ بیا د هغې نه ګټه هم اخلئ نه دا چې ډانلوډ یې کړئ او ګټه ترې وانخلئ.**

**انټرنېټ ته د یو بازار په سترګه ګورئ چې کوم مشروع کار په کې لرئ هغه په کې خلاص کړئ او څه مو چې پکار وي هغه ترې واخلئ نه دا چې تمامه ورځ مو په بازار کې تیره کړئ.**

